مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

۲۰۲/۰۹/۰۵

کلیوال

# مُلا ته د جنی خبرې

ولی دی تش زما لیدو باندی اودس ماتیږی
کلي کی یوځل او په ښار کی، یو په لس ماتیږی

خومره ضعیف خومره ناتوانه شوی ملا صاحبه
چی دی اودس د جنکو، د بوټ په کړس ماتیږی

زمونږ اړیکي وی دی ښارکی لکه خویندي وورونه
اوس اودسونه ولی ژر، لکه وچ خس ماتیږی؟

مخ به می پټ کړم خو په رنګ د جاموځه وکړمه
ستا خو زما د جامو رنګ ته، هم هوس ماتیږی

مُلا صاحبه! بندیزونه په مونږ مه لګوه
که موراو خوردرسره نه وی، بیا دی وس ماتیږی

یا په فرمان لوړ زیږول بند کړه حرام یی کړه
شی به خرګند چی څنګه دا، د زور جرس ماتیږی

جوړ فرعون غوندی نه ، جوړ محمدص غوندی شه
لکه فرعون چی شو مات، داسی هر کس ماتیږی

حکمراني په جبر نه شی، په تدبیر سره شی
د بی تدبیره حکمران ، هر بندو بس ماتیږی

سپتمبر/۳/۲۰۲۳
ایجکس – تورنتو – کانادا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ